
دلمرپه لټون
لطف الله مشعل

د کتاب ځانګړنې:
-----------------------

د کتاب نوم:: د لمر په لټون

لیکوال:: لطف الله مشعل

د چاپ کال:: ۱۳۸٤هـ ش کال

دچاپ چاري :: دانش خپرندویه ټولنه _ پېښور

د چاپ شمېر:: ۱۰۰۰ ټوکه

د کتاب لړلیـــک:
--------------

| | |
|---|---|
| د لمر په لټون | سکوت |
| خپلي خبري | شکنجې |
| سرورکائنات ته | پردیس |
| یو شیرین یاد | پردیسي |
| سا. ري. ګا. ما | خیال |
| لنډ ځپیز | جفا |
| امان الله ساهو ته | بندیز |
| زورواکي | ګیله |
| دزړه کعبه | غم ته |
| د کرکي کر | التجاء |
| ملي سرود | هدیره |
| میخونه | نور غزلیات |

## دلمر په لټون

ستورو دخدای په نوم راویې ښیئ
شل کاله کېږي رانه لمر ورک شوی

دا دمشعل چیغه ده مشعل د شعر مشعل په لاس کې د کم او زیات شل کلنې اوږدې شپې پردرشل ولاړ دی او د لمر لټون کوي لمر د لوی خدای د ښکلا دکرشمو یوه ځلیدونکې غنچه او ستوري دکایناتو د ګګریوان رڼې تنې. شاعر غواړي چي د لمر تر زرینې ګوبزې لاندې له خپلې مینې او خپل ارمان سره کیني، سلګۍ ووهي او داوښکو په سترې او کمکۍ ژبه د شل کلنې اوږدې شپې د درد کیسه ورته تېره کړي لټون له کړاوه ډک دی خو د درد خواږه یې ډېر دي.
دمینې او مشعوق لټون تر بل هر لټون ښکلی دی، همدې ښکلې او له درده ډک لټون له مشعل نه شاعر جوړ کړی د شاتو مچۍ دلونو له ترخو پاڼو خواږه شات جوړوي، شاعر له ترخو شېبو خواږه شعرونه، دهغه شاعر د سندرو زور ډېر دی چې دمینې دقمچینې شنې تغمې یې پر زړه ډېرې او ژورې پرتې دي.
دخوشال بابا خبره:

د خوشال اواز په ټولو کې څرګند دی
لکه غږ دویرژلي په ګڼ ویر کې

زموږ په دې اوږده ویر کې مشعل هم خپل فریاد پورته کړی، چې دهمدې کتاب په توري توري کې یې اورید ای شي کله یې ښه څرګند واورئ کله ناکله کیدای شي دا فریادونه تت وي دا نو مشعل ګناه نه ده.
دې اوږدې غمیزې پرموږ دومره رانجه خوړلي چې آوازوه مونا ست دي راځئ چې دمشعل دشعر تر سمسورې ونې لاندې ښه ډېره دمه وکړو

په مینه په ډېر ادب.
کاروان
1382خوست د تنیو نریزې کلی

## خپلې خبرې

له کله نه مې چې لیک او لوست زده کړی، له هماغه راهیسې مې د شعر لوستلو سره بیسارې مینه وه او دا مینه لا تراوسه هم دوام لري، دهجرت په لومړیو شپو او ورځو کې چې لا دمهاجرو لپاره ښوونځي نه وو ، خدای ‌بښلي پلار مې د پښتو او فارسي شعرونو څو کتابونه لرل او ددې لپاره چې لیک او لوست رانه هېر نه شي نوموړي کتابونه یې را باندې بیا بیا لیکل چې له یوې خوا مې ورسره لیک خورا ښه شو خو له بلې خوا مې له شعر او شاعرۍ سره مینه دومره ډېره شوه چې کلونه وروسته مې پخپله د شعر لیکل پیل کړل.

"بلیندې" زما د شعرونو لومړۍ ټولګه ده ددې ټولګې ډېر شعرونه ما دهجرت په شپو ورځو کې لیکلي، ځکه خو به لوستونکي پکې د پردیسۍ درد من احساسات له ورایه درک کړي زه په شعر کې دجلال او جمال دواړو په شتون معتقد یم، له تغزل له ډک غزل مې ډېر خوښېږي خو له آزاد شعر سره ځانګړې مینه لرم.

دمجاهد په لیسه کې زمونږ د پښتو ادبیاتو د ښوونکی شهید استاد ملنګیار او دهغوی د کشر ورور استاد اسیر الله اسیر چې زموږ د کیمیا ښوونکی و ، هڅونې، روزنې او ښوونې زه د پښتو شعر له الف او بې سره بلد کړم.

دمجاهد لیسې نه له فارغیدو سره سم مې 1991 په اوایلو کې دهېواد له وتلي او نوښتګر شاعر پیر محمد کاروان سره پیژند ګلو پیدا شوه، هغوی نه یوازې له ما سره دشعرونو د اصلاح په برخه کې ډېره مرسته کړې بلکې دخپل بډای ادبي کتابتون ګڼ شمېر کتابونه یې زما په واک کې راکړي وو ، چې ماترې ډېره ګټه اخیستې.

زه له دې ټولو ښاغلو نه مننه کوم او که زما په شعرونو کې د ستاینې وړ کوم ټکی وي د همدغو ښاغلو یې بولم. که زما دګران ملګري او تکړه لیکوال الیاس وحدت هڅونه، زیار او هاند نه وای، دا شعرونه به همداسې زما د یادښتونو په کتابچې کې ناچاپه پاتې وو. ده نه یوازې ددې شعرونو چاپولو ته هڅولی یم بلکه ددې شعرونو په کمپوز، اوډنه او چاپ ته تیارولو کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي دي چې د زړه له کومې یې مننه کوم.

خپلې خبرې دا استاد پسرلي په دې شعر پای ته رسوم .

خدای دې پسرلیه د پښتو غاړه پرې هسکه کړي
دغه ملغلرې مې پاللي د سیپۍ غوندې
په ټوله شاعرانه مینه
**لطف الله مشعل**
د دوري دویمه نیټه1383
زاړه مکروریان، کابل

| |
|---|
| ډالۍ: |
| **خپل عالم فاضل او ادیب پلار خدای بښلي مولوي لعل ګل طوطاخیل ته** |
| **چې د پښتو لومړی شعر مې دهمدوی له مبارکې خولې اوریدلی و.** |

## سرور کاینات "ص" ته

د سلام ډالۍ مې مه شه له تا د رېغه
د وقار شمله دې خدای ساتلې نېغه
ته یو نور یې وهمه واړه عالم ته
د بد خوا سترګې دې ووزه بې تېغه
دادنیا خو ستا لـه رویه منوره
دادنیا خو ستا لـه رویه بختوره
ستا پیغام وو چې رڼا یې را خوره کړه
کنه هره خوا تیاره وه لر او بره

ستا ژوندون ځه دنیکیو سرنامه ده
ستا احوال دنېک بختیو علامه ده
تا د ژوند په معنی پوه هر یو انسان کړ
لارښوونې دې دښه ژوند برنامه ده

د بیکسو او بیوزلو مددګار وې
دخاین او د ظلم د سترګو خار وې
ته ښوونکی د رڼا او د ښکلا وې
تکیه ګاه دهر مومن او هر دیندار وې

دګناه پیتی په غاړه، ګنهګار یم
شفاعت ته دې محشر کې انتظار یم
تر هر چا پخپل امت یې مهربانه
شکر خدایه، امتیانو کې د شمار یم

24/2/1375
ټل- پښتونخوا

یو شیرین یاد

د پردېس ذهن
هر خیال کې مې،
دبیا لیدلو هیله
څه شیرینه غوندې زغلي
څه حسینه غوندې زغلي؛

ستا یادونه مې هېوادده
د رنځور زړه په هر رګ کې
لکه وینه غوندې زغلي
لکه مینه غوندې

اسلامیه کالج- پېښور
18جولایي 1993

سا ، رې، ګا ، ما
ممتاز اورکزی ته

ورځ ټوله ستار سره
شپه د رباب تار سره
داد طبل دروند اواز
څه وایي هر وار سره؟
خوږد سرېندې اواز
راګ راګ شي ګفتار سره
توره وریځ سپینه ده
ستا له یکه زار سره
لار دې دمنصور لاره
ژوند دې دی له دار سره
ویر دې دی دخلکو ویر
خوښ وې تل له یار سره

زړه دې سمندر غوندې
مل وي هر کنار سره
څو مره هم منزله يې
نه خيام په لار سره
ښکلې ملغلرې دې
نه تلم اشعار سره
ښکلې ملغلرې دې
نه تلم اشعار سره
زړه دې خرڅ په مينه ده
نه درهم دينار سره
تن دې شارجې کې وي
روح پاړه چنار سره
ياد دې د مشعل دی مل
يې که هر ديار سره

مارچ (2000) - توره وړی، اورکزي، پښتونخوا

لنډ څپيز غزل

په ماد غم نښې دي
ستا دکرم نښې دي

ساندې او اوښکې ژړا
زما دچم نښې دي

دا رنګينۍ دفطرت
مې، دصنم نښې دي

د ديدن لنډې شېبې
دجام جم نښې دي

مشعله وينه کړه تېل
بيا دتورتم نښې دي

ټل-پښتونخوا
7/12/1995

خدای ببښلی امان الله شاهر ته

ستا دیونلیک
آ، ناتمامه کیسه
لکه بسمل مرغه
نیم ژواندي پاتې
ستا دارمان ارمان ژوندون
دامیدونو غوټۍ
لکه دتت اسمان سپیدو کې
لالهاندې پاتې
ستا دناول
آ، نالیدلې خیرې
ستا دنظمونو
آ، خیالي انځورګر
اوس هم له مورږ سره
خبرې کوي
اوس هم دتا قاغه رنګینې "سپیدې"
زمورږ ګوګل کې لاندې باندې پاتې
خو شاعر زړه دې
له مورږ ګوښې کړلې
او د بهره لاروي ته، ساهو
ستا له غمجن بیلتونه
ساندې پاتې

ټل پښتونخوا 27/جولایي/1998

## زور واکي

داستبداد او زورواکۍ
په شپو کې
دجنګ او ویر بلاوې
زما دخلکو پرمرۍ
لکه خپسې خښې؛

دوېجاړۍ او ورانکارۍ
دا ترهه ګرې ښښې
چې د پردیو په لمسون
لکه رقاص نڅېږي،
د پیغلې سولې
پرټټر لکه غومبسې خښې؛
دخلکو ژوند
دخلکو اند
دخلکو ویاړ ته
منتظرې سترګې،
ولسواکۍ ته په تیاره درشل کې،
تلونکي یاران،
یو دوه کوترو غوندې
د ځو ښکاري بازانو
لومو کې، ښوسې خښې

کارته پروان- کابل
1382د تلې لسمه

## دزړه کعبه

زما د زړه د مقدسې کعبې
دتلوسو په دې ودان حرم کې
ددې ښایسته دنیا ښایسته ښاپیرو
دعقیدت نه طوافونه کول؛

او دوفا او محبت په نوم يې
دابراهيم دنذرانې په مثل
دخپل زړګي د قدرمنو تکړو
په ډېر خلوص سره نذرونه کول

خو ددې تېرو ورځو شپو راهيسې
زما دزړه دغه سپېڅلې کعبه
دازارونو او توهين موخه ده،
دابرهه په څېر ظالم وګړي
ترې راچاپير دي چې يې ونړوي؛

دمحبت او صداقت خيالونه
او دوفا هغه محکم برجونه
چې انسانانو ته دمينې ځای دی

په خپلو شومو او ناولو هڅو
لکه دتل لپاره وشړوي

زه انتظار يم ابابيل مرغوته
چې له مښو کو په ويشتونکو ګاټو
دابراهه لښکرې تار په تار کړي؛

او زما د زړه ددې سپېڅلې کعبې
دورانوونکو دا مغروره لښکر
ددې کعبې له ورانېدو ابسار کړي

25ډسمبر 1992
کاهي کنډو- ټل- پښتونخوا

## د کرکې کر

مونږ ته دښمن
د کرکې کر کړی دی؛
زمونږ په لارو او ورشو کې
د مرګ لومې خښې،

هیڅ نه پوهیږو
چې له کومې دي تر کومې ځنېږي؛

زمونږ غاټول غاټول تنکي کوچنیان
چې قدم واخلي
د مرګ لومو ورته خوله پرانیستې،
دې جل وهلي، غم ځپلي او نالوستي چم کې
د ژوند درانه پیټي ته
دوی لا اوږې ورکړې نه وي
چې نا ځوانه دښمن
یا ترې نه لاس او یا پښه اخیستې؛
د غره لمن کې خوار شپونکی
له سرو داړونکو شرمخانو او لیوانو نه
نور نه ډاریږي،
اوس هغه ښاري په ورشو کې
نالیدلی، ناچاودلي توکي،
هغه چې تېره ورځ یې
دده تر ټولو نازولی او پاللی پسه
له پښو وغورځاوه

اوس مینان د ګودر غاړې ته
په زغرده نه ځي،
او اوس د چینې په غاړه نه وي جوړ د جونو بنډار
ټول تر هیدلي دي له تلو راتلو نه،
پرون د کلي هاغه چټه پېغله
چې په مالت کې یې د حسن اوازې خپرې وې
په یوه ماین وخته،
او د ماین تېرو او زهرجنو چړو
په بیرحمۍ او ناترسۍ
د هغې مخ نه د ښکلا او حسن
هغه لطیفې او ورېښمینې کرښې وتوږلې!!!

1373، ګردیز

ملي سرود

د محرومیت او ناهیلیو

دې کرکجن پړاو کې
مونږ له هر څه محروم یو ،

ما مې د خپلې ازادۍ او سوکالۍ په ورځ هم
دخپلو ګڼو مشرانو او ښاغلو سره
دیوې لوې پرتمینې غونډې
په اوږد بهیر کې
خپل ملي سرود وانه وربډلو ،

مونږ به تر څو داسې محرومه اوسو
او لاترڅو به
داسې ورک او نامعلومه اوسو

د زمري اته ویشتمه- 1382
غازي شتېډیم، کابل

## میخونه

په ځیګر وهي میخونه
په ټټر وهي میخونه
دا په دې چې ته پښتون یې
ستا په سر وهي میخونه
په بندیانو ، اسیرانو
کله نر وهي میخونه
څه د ظلم انتها ده
په بشر وهي میخونه
چا عیسی په صلیب کړی
پرې ژر ، ژر وهي میخونه
د پردي کپس مرغۍ دي
په وزر وهي میخونه
ستا د پاکو وینو رنګ به
په مجمر وهي میخونه
تش حسین، حسین (رض) نعرې کړي
خو شمر وهي میخونه
مشعل دوی ته بد شګون کې

په خپل ور وهي ميخونه

د 1373 اوړی، شاه شهید -کابل

## سکوت

په دې ښار کې چې زه ګرځم
عجيبه غوندې دستور دی
خلکو ډک دی ښار له ښکلو
خو له مينې نه خالي دی؛
ټول وګړي دي تړلي
کې، د سکو په زولنو
کله زه ورمخامخ شم
کله دوی رامخامخ شي
ښه په مينه راته ګوري
مينه ورته ګورم، او په
خو مهرونه لګيدلی
د سکوت په هره خوله دي؛
را وايي نه دوی ماته څه
او نه دوی ته څه ورو وايم
په ځيرکو تورو سترګو
ژبه او تړلې ګونګه
يو د بل تر څنګه تېر شو

5/ 1992- مال روډ -کراچی

## شکنجې

ټول نهريو خو يو تش شان شکور ته ناست يو
ددې دور د ظالمو زور ته ناست يو

پنجرې نه باهر سپينې واورې اورې
مونږه سوزو چې دزړونو اور ته ناست يو

چاوې، نوی بادشاه تک سپين لکه لمر دی
مونږ څه سپين ليدلي نه دي تور ته ناست يو

پورې د ښتې کې څه مست شازلمیان خښ دي
همسفر مو وو ، دهغو شور ته ناست یو

دالسیزه، دا ظلمونه به تل یادوي
نور څه نه د انسانیت پیغور ته ناست یو

دمشعل دهېوا د هر رنګ او نژاده!
داکور، کور کړئ چې ټول دغه کور ته ناست یو

د سرطان لسمه 1381
شبرغان - جوزجان

## پر د پس شهید

زما خوږې محبوبې
زه خبر شوی یم چې کله مو ځې
دخپل وطن په لوري
مخکې له دې چې له سرحده واوړې
او له دې کېمپه ته د تل لپاره
لاړه شې ګران وطن ته
دا ځوانیمرګ شهید دې
یوا ځې چاته پرېږدې
په دې سپېره دښته کې
چې په کلونو به بیا
زما مزار ته څوک راونه ګوري
او دخلوص او محبت په یاد به
زما دقبر په زړه لکړه

دعقیدت دسمال څوک ونه تړي
یه زما ګرانې پښتنې محبوبې
ته چې زما په نوم تور سر سپینوې
زه دلحد د غېږ تیګو لاندې
ستا دوصال په تمه شپې تېروم
هر مازیګر چې ته تر قبره راځې
او زما د قبر په زړه لکړه
دخپلې مینې دسمال وځړوي

زما په مړه وجود کې
د محبت ساګانې وچلېږي
ځان کړم راپورته چې دې ووینمه
خو دا لحد دا غټې غټې تیګې
مې د تندي سره ټکرې وخوري
او په مایوس انداز کې
بېرته د قبر تل ته وغورزیږم؛
زما خوږې مېرمنې
مخکې له دې چې ته د تل لپاره
ما په دې دښته کې یوا ځې پرېږدې
یو واري ځان تر ما راورسوه
زما د قبر د لکړې لاندې
زما په سر باندې دا نېغه شناخته
د محبت په کاڼو وډبوه
بیا که ته لاړه شې ورځه مېرمنې
زما غوږو کې به د شناختې دربا
د تل لپاره ازانګې خپروي

2/6/1373
کاهي کنډو - پښتونخوا

## پردېسي

زه د شپې په زړه کې اوسم
د رڼا، ښکلا نه لرې
چې سبا ته ورننږدې شم
نو بیا شپې شي راته ستري

تیندکونه خورم هرګام کې
هره خوا غورځم او پرځم
په یوه خوا چې لږ لاړ شم
بیا راستون شم، بیا راګرځم

تور تمونه را خواره دي
را نه ورک لار او ګدر دی
د منزل تم ځای مې نشته

په ماتنګ سمه او غر دی

دغمو له لاسه تنګ یم
له ژوندونه یم بېزاره
تورو شپو یمه تنګ کړی
چېرته لاړلې سهاره
پردېسۍ کې مې ژوندون دی
له خوارۀ هېواده لرې
شین لوګی رانه جګېږي
وسوم زه په اور دسرې

نه د ژوند په خوږو پوی شوم
نه شوم پوی په راز دمینې
بس هر لور ته مې وحشت دی
او بهېږي هر لور وینې

خدایه! کله به سبا شي
چې پیدا شي مشعلونه
رڼا هره خوا خوره شي
او ژوندون مو شي خوندونه

1369دغوایي دمیاشتې 21 مه نېټه،
هشنغرۍ، پېښور

خیـــال

زه پوه نه ومه چې چېرته
له خپل کوره ومه تللی؛
دیو ښکلي بڼ په مینځ کې
د ویالې په غاړه ناست وم
د بلبلو شور ماشور وو
فضا ټوله وه رنګینه؛
د ویالې په شنو اوبو کې
زما سترګې ځیربدلې
او دشنو اوبو ځپو کې
دخیال کربښې ښکاربدلې؛

ځپې ورو ، ورو شوې بدلې
او ترې جوړه هنداره شوه
ماددې هندارې مینځ کې
د خپل یار څېره لیدله
چې د مینې څو خبرې
کړې له ماسره خاموشه

زه د ډېرې خوشالۍ نه
په خپل ځان نه پوهیدمه
دوصال نشه کې ډوب وم
او اوبو ، ته ځیرېیدمه
جانان ما سره مشغول و
په خوږو خوږو خبرو
زه هم ځیر وم خپل جانان ته
چې یې واورمه خبرې
زه لامو ړ په دیدن نه وم
لامې هېڅ لیدلي نه وو
چې چا کاڼی راګذار کړو
د اوبو رینې ښیښې ته
داوبو ښیښه شوه ماته
هنداره شوه دړې وړې
او د شنو اوبو ځپو کې
مې دیار تصویر پناه شو

ګردېز 28 ؟ وری ؟ 1372

## جفــا

زه منم چې ستا په زړه کې
دبل چا مینه اوسیږي
او زما مظلومه مینه
ستا په زړه کې نه ځایږي؛

خیر چې لاړلې له مانه
دبل چا د زړګي ګل شوې
زه به خپل زړګی په وینو صبرومه

او دتادبې وفا مينې په ياد به
دحسرت او او اند ښنو ډ ېوې بلومه؛

ستا زړګی دې وی خوشاله
خير دی زه که په ژړا يم
ستا ژوندون دمبارک شي

خير که زه په واويلا يم؛

دا ځواني به مې شي تېره
په آهونو ، حسرتونو
دژوندون ډ ېوه به مړه شي
دجفا په توپانونو ؛
خو دا وخت به آخر تېر شي
ستا ځواني به هم زړه شي
ستا دادنګه نرۍ ونه به
کږه وږه وړه شي
ستا د زلفو دا ټالونه به
د سپين سپنسي په څېر شي
او دناز او اداګانو
دا فاني بازار به تېر شي؛
په بيوسه قدمونو
او ضعيفه اندامونو
به زما تر مزار راشې،

په مزار به مې وي ټولې ډ ېوې بلې
او د بلو ډ ېوو تنه شان رڼا کې به
زما دمزار شناختې ته لږ ځير شې
په شناختۍ به ستا ښايسته تصوير انځور وي
او د بلو ډ ېوو هره پلوشه کې به
دتاتصوير ښکاريږي،
نو په هاغه وخت به پوی شې
چې زما مينه رښتياوه!!!

مجاهد ليسه، پيښور
د مرغومي لسمه 1370

## بندیز

ګرانه ! دمینې نوم په خوله وانه خلې
دلته د ښار په څلورلارو کې،
دمینې دښمن
چاړه په لاس ولاړ دي؛
مینه په زړه کې وژني،
او دمین په رپېدونکو شونډو،
دمینې نوم لکه ماشوم قتلوي .

-25/8/1373شاه شهید - کابل

## ګیله

ماتاته مینه درکړه
زړه مې درکړو
ځان مې در کړو،
د زړه جهان مې در کړو ؛

خو تا، خوږه جانانه
زما دمینې په بدل کې
ماته کرکه راکړه؛

زما د زړه د شیش محل
شیشې دې ماتې کړې
دویر په کاڼو ؛
زما د روح دهېواد
هغه ښایسته پلازمېنه
چې د قاف له غرو به
ښاپیرۍ ورته په سیل راتلې؛
دې دکینې په توغندو

لکه کابل وویشه؛
او زما د زړه د ښار
په هره څلور لار کې دې
دمینې قتلګاه جوړه کړه
مینه دمړه کړه؛ ارمانونه دستی کړل
دکینې په لمبو
زه دې د ژوند هره سیالۍ کې
له سیالۍ پاتې کړم؛
رنګ دې کړم- وران دې کړمه
افغانستان دې کړمه

غم ته

ای زما د زړه غمونو !
ای دردونو ای آهونو !
تاسو ټول مې مېلمانه یئ
د زړګي وړه حجره کې

دا حجره هم د پښتون ده
چې مېلمه پالي په مینه،
زه به هم درنه قربان کړم
د وړوکي زړګي وینه

خو؛
ای زما دزړه غمونو
ای دردونو ای آهونو !
یو منت درته کومه
دا یو سوال درته کومه،
نور مې ټول وجود کړئ خاورې
اندامونه مې ستې کړئ،
هله ، هله غوښې مې کړئ وچې
ویر ژړلې مې مستې کړئ؛
دا یو زړه مې ژوندی پرېږدئ
چې یادونه پکې اوسي،
ارمانونه پکې اوسي؛

دا يادونه ديو چا دي
چې له ځانه رارته ګران دی
له جهانه راته ګران دی

21اپريل ؟1994 جهانګير آباد - پېښور

## التجا

میرویس نیکه علیه الرحمه ته

راغلم، چې دمه شمه، ډېر ستړی يم
شل کلونه کيږي تو پان وړی يم
راشه په ژوندو کې مې حساب کړه بيا،
زه له هر چا پاتې يمه مړی يم

ستا هغه با توره قام مات مات دی ټول
وينې دی، ټپ ټپ دی او کسات دی ټول
هر چا تر خپل وسه ځورولی دی
پاتې دی، بيوسه دی، ميرات دی ټول

نه يې څوک رهبر شته چې پيشوا يې شي
مشر شي، ټپونو ته دوا يې شي
لاس خلکو ته ورکړي او دخلکو شي
دوست يې شي، نيکه يې شي، بابا يې شي

ستا دور کې يو وو، ټول ښاغلي وو
اوس دځانځانۍ ښامار خوړلي يو
څو بې کور او اواره غلو، ډاکوانو نن
ټول پسې اخستي يو، شړلي يو

راشه پرګنې مې رابيدارې کړه
راشه دابې لارې مو په لارې کړه
راشه او، آتللی غرور راولـه
راشه ولولې مو بيا سرشارې کړه

1381د زمری اتمه،

دمیرویس نیکه (رح) مبارک زیارت، کندهار

هدیره

ددې کېمپ په بره خوا کې
یوه ښکلې هدیره ده
دخړچکې غونډۍ سر کې
دمهاجرو مقبره ده

ببرغونه پرې رپیږي
ځنې شنه دي ځنې سپین دي
دسمالونه پرې تړلي
ښه ښایسته او ښه رنګین دي

یو سکوت دی هدیره کې
نه خبرې نه چغار شته
هره خوا چپه چپتیا ده
نه مجلس شته، نه ګفتار شته

کله کله هدیرې ته
دوګړو ډلې راشي
په قبرونو ودرېږي
او الله ته په دعا شي
او بیا بېرته ټول ستانه شي
دخپل ځای او کور په لوري
بیا په میاشتو او کلونو
هدیرې لور ته نه ګوري

خو ددې قبرونو مینځ کې
دا یو قبر له ورا ښکاري
د شهید شناخته پرې خښه
له جنډو یې ښکلا ښکاري

زه چې دې قبره ګورم

امیدونه پکې خبښ دي
څه د ورارو وراور هیلو
ارمانونه پکې خبښ دي

هره ورځ چې مازیګر شي
او شفق سرخي ښکاره کړي
ددې قبر خواکې ویر وی
او اسمان یې ننداره کړي

دیو تور تیکري مېرمنه
ددې قبر خواته راشي
کیني شناختې سره جوخته
او بیا ورو ورو په ژړا شي

څه د راز او نیاز خبرې
کړي له ځان سره خاموشه
وي ژړا ور سره غبرکه
لکه څوک چې وي مدهوشه

بیا یو ښکلی دسمال واخلي
له جنډې یې کړي چاپیره
او دکور په لور رهي شي
له ژوندونه وي ور تېره

بس همدغه یې ژوندون دی
په غمونو کې او سیږي
به پو هیږم څه ورپیښ دي
خو ځواني یې خاورې کیږي

زه چې دغه پېښې ګورم
نو مې زړه قلم، قلم شي
ددې خوارو ورارو کونډو
په حالاتو مې ژوند غم شي

داد کوم ظالم له لاسه
په ولس مو دا ماتم دی
مشعلونه پکې مړه دی

او هر لوري ته تور تم دي

د زمري اتمه 1371
دکاهي کيمپ-هنګو ، پښتو نخوا

غزليالت

زما د زړه په کور کې، کور جوړوي
ياد دې محل ځومره په زور جوړوي

په چپو شونډو دې اظهار د مينې
څه هنګامې جوړوي، شور جوړوي

زمونږه شونډې، شونډې څه پيژني
دا خلک هسې پسې تور جوړوي

پېرزو يې نه شي په مونږ فصل د ګل
د چم رقيب مو ځکه لور جوړوي

زما لـه مينې او دتا لـه ښکلا
فطرت لګيا دي يو انځور جوړوي

2/10/1998تل، پښتونخوا

غزل

چې په غاړه کې د پروت دی د دلبر لاس
شبخه ځکه ګڼې ته په دنيا بر، لاس

ابراهيم مې و بچاړ کړی د خيال بت دی
هيڅ تاثير ورباندې نه کا د آذر لاس

زه يو تن يم، بيلوی مې هيڅوک نه شي
که هر څو رانه ځوک ښېل کړي د خيبر لاس

خواره مېنه مې د دور کربلا شه

له هر خوا ورته را اوږد دی د شمر لاس

زه مشعل یمه د مینې سیلاب وړی
کاش چې خبښ مې شي د وصل په ګودر لاس

/22جولایی 1994 ټل، پښتونخوا

## غزل

د جانان رنګینه خیاله چې را خور شې مستانه شم
په هوښیاره هوښیاری شم بېهوشه دېوانه شم

دا څه چل را باندې وکړې، بې شرابو مې نشه کړې
هم شراب شم، هم ساقی شم، هم ساغر هم پیمانه شم

تصور کې د جانان نه مینه ناک لاسونه تاو کړم
چې په هوش شم هېڅ څه نه وي، خپل وجود ته زولانه شم

په ژوندونې چې زما پوښتنه نه کوې دلبره
بیا بې څه کړم چې د ژوند زړه کیسه او افسانه شم

غزل چېرته، مشعل چېرته، دا د مینې څه افسون دی
ستا یادونو کې چې ډوب شم هم غزل هم ترانه شم

د 1367 کال د لیندی لسمه
مجاهد لیسې لیلیه؟ پېښور

## غزل

بیا دې لـه جنګه سترګې واړولې
که دې لـه ننګه سترګې واړولې

څو مره بې خوده شوې خماره یاره
چې دې لـه بنګه سترګې واړولې

د سرا و تال نغمو نشه، نشه کړې
که دې لـه ترنګه سترګې واړولې

د محل هره خوا د ستوري ستوري
چې مې لـه څنګه ستر ګې واړولې

کوم خوشال خان دې بیا په ستر ګو کې شو
چې دې اورنګه، ستر ګې واړولې

په ودان کلي کې به تل وې مېلمه
اوس دې لـه ړنګه ستر ګې واړولې

د مشعل زړه دې څه بې درنګه یوړو
چې دې بېدرنګه ستر ګې واړولې

د اکتوبر 15 مه 1995
ټل، پښتونخوا

غزل

راشه ! چې جنون پسې اخیستی یم
هجر او افسون پسې اخیستی یم

ژوند که ټول همداسې وي، ترې مرګ ښه دی
بې لـه تا ، ژوندون پسې اخیستی یم

نکړمه ګیله چې مغل مات کړ
جهل د پښتون پسې اخیستی یم

لولم یې په مینه خو ، زړګی مې خوري
داسې یو مضمون پسې اخیستی یم

راشه چې یو دوه ورځې ښې تیرې کړو
نور نو ځیګر خون پسې اخیستی یم

زاړه مکروریان ؟ کابل
/2003جولایی لسمه

غزل
"نغمې دي د بلبلو لور په لور د پسرلي"
زرغون تغر بیدیا کې ښکاري خپور د پسرلي

ګل شونډې، چنارونه، غزلیزه ځواني ستا
که جوړ دی په تابلو کې چا انځور د پسرلي

دنی مسته کوځه ده، که دماتې شپیلۍ غږ **
ګلبڼ دغزلونو دی سمسور د پسرلي

آبشار وي او چغار وي دچر چڼو هره خوا
پوره په ترنم وي همدا شور د پسرلي

ریدی یې ګریوه چاک کړ او نیمزالې ونې شنې
مشعله ! غوړولی یې دی زور دپسرلي

-12جولای- 1994 د پښتو ادبي چمن دفتر- ټل

**دنی کوځه او ماته شپیلۍ دمحترم محمد صدیق پسرلي دغزلونو ټولګې دي

## غزلیالت

### غزل

جانانه خپل مې کړه، مین دې یم اغیار دې نه یم
هره خبره دې منم خو دانکار دې نه یم

ستا د آدم دونې څانګه یم په مینه پایم
ازغی مې مه جوړوه ګل دې یمه خار دې نه یم

دهیلو ژونده که خوښې راولې، رایې وله
زما له هیچا تمه نشته، امیدوار دې نه یم

ساقي چې څه رالوروې ماته په ډېرو منظور
زه بیړندی یمه، تادي کوه دوار دې نه یم

21/2/1378
ټل- پښتونخوا

## غزل

که هر څو دې د ستم دودونه زيات شي
خدای دنه کا چې په زړه کې مې کسات شي

ستا ترخې، ترخې خبرې ماته ګرانه
خوږه وړې شي، شکرې شي، نبات شي

منجاور به دې د حسن د زيارت شم
چې روا دې د ديدن راته خيرات شي

غم دې داسې په زړه مات کړمه شيرينې
لکه زړه کې د هوسۍ چې غشی مات شي

چا په سترګو کړې زما ښکليه کابله
دا زما ځواني دې تاته نظرمات شي

11مارچ 1995 تل، پښتونخوا

## غزل

ستا د ښو لـه واره ووتمه
ځکه لـه هر ګذاره ووتمه

چې پرې پېښلې وو زخمي زړګوټي
زه لـه همغه تاره ووتمه

ستا دوصال په تمه ګرځم خمار
مست يم لـه هر خماره ووتمه

د ژوند دوزخ مې دجنت په هيله
تېر کړ لـه هره کاره ووتمه

مشعله ژوند مې دی لـه هغې په وير
چې د کابل لـه ښاره ووتمه

-15چنګاښ- 1370

## غزل

د هجر شپو کې دې ښکلا لکه لمر وځلوه
ګرانې تيارې دي، څه رڼا لکه لمر وځلوه

مونږه اورونو سره روږدي يو درځو به خواله
ته دې جلوې دخپل ښايست په مجمر وځلوه

نور دې جانان نه ګردنۍ او ټوپک دواړه واخله
نور دلمبو په ځای ښکلا په سنګر وځلوه

کلونه کيږی وچکالي ده، هر څه تندې نه مري
خدايه د واورو سپين څادر په سپين غر وځلوه

توره بوړه -ننګرهار
د 1991 کال ډسمبر

## غزل

له جوماتونو مو منبر ورک شوی
له بتخانو نه مو آذر ورک شوی

څه دماتم د قبيلې غږي شو
خوښۍ مو ورکې دي اختر ورک شوی

ستورو ! دخدای په نوم راوې ښايئ
شل کاله کيږي رانه لمر ورک شوی

چاپې کور وران کړ، څوک يې نوم ورانوي
پښتون هم بورک دی، هم لرورک شوی
خدايه ! په سيمه څه تالان راګډ دی
ورشو مو ورکه شوله، غر ورک شوی

دښمن راکړی څه مو ګونی ګوذار
وجود مو شته دی رانه سر ورک شوی

ټول يې پېرلی يو د غم په امېل
له چا زړګی، لـه چا ځيګر ورک شوی

د کلي ناوې لـه سلګونه دې ځار
له تا خاوند ، لـه ما دلبر ورک شوی

ټل، 1998/1/25

## غزل

ستا محبت، ستا یارانه مې ژوندون
شو حقیقت که افسانه مې ژوندون

د لطف یوې نګاه دوا خیستمه
ځکه شو ټول عارفانه مې ژوندون

اوس به بندیز په هنر څنګه منم
چې شو غزل او ترانه مې ژوندون

ګرانه ویر ویر ده خولـه خاورې مست یم
چې درته ښکاري مستانه مې ژوندون

که په وطګن د سر ښندنې داو وي
زما به دا وي، نذرانه مې ژوندون

د جون لسمه 1994
ټل-پښتونخوا

## غزلیالت

## غزل

ستا د ستم کیسه اوږدېږي څومره؟
زما د غم کیسه اوږدېږي څومره؟

د مینې سترګې مې شي هومره تازه
چې یې د نم کیسه اوږدېږي څومره

په هر پړاو یې تلوسه، تلوسه
چې د صنم کیسه اوږدېږي څومره

د پیو ستون ارمان مې نور هم وژني

چې د تورخم کیسه اوږدیږي څومره

دوطن مینې لړمې درولـه نور
دلته دتم، کیسه اوږدیږي څومره

دلته ګاونډ کې مې مسکا او خوښې
هلته د بم کیسه اوږدیږي څومره

د مشعل روح هم هومره روڼ وساته
چې د تور تم کیسه اوږدیږي څومره

/1994جنوري لسمه
پښتو اکیډمی- پیښور پوهنتون

## غزل

یادونه دجانان دي زوروي مې، زوروي مې
اورونه دهجران دي سوزوي مې، سوزوي مې

د اوښکو سمندر مې و ساحل ته رااوچت شو
څپې یې په لړزان دي غرقوي مې، غرقوي مې

په هجر دمحبوب کې مې عاقله ژړا بویه
کم عقله ناصحان دي خندوي مې، خندوي مې

په ډېرو هلو ځلو چې محبوب ته ورنږدې شم
ناترسه رقیبان دي بیلوي مې، بیلوي مې

هر څو که مې وصال ته د فراق لاره اوږده شي
فضلونه دسبحان دي رسوي مې، رسوي مې

مشعله دبقا راز لټومه په فنا کې
راغلي رو یباران دي خبروي مې، خبروي مې

دمرغومي لسمه- 1367،
دمجاهد لېسې لیلیه، پیښور

## غزل

بیا مې له ارمان سره په جنګ یمه
مات یې کړم افغان سره په جنګ یمه

ټیټ یمه، کمزوری یم خو تا ته بس
نورې دنیاګۍ ته زه ډېر دنګ یمه

مینه غواړم، زړه غواړم، جانان غواړم
زه، بس ددې درې ټکو ملنګ یمه

ته هم ښایسته یې، ګلورینه یې
زه هم شازلمی یمه، لونګ یمه

خاورې! ستا له غېږې لرې لوی شومه
بیا دې هم په هر یو رنګ کې رنګ یمه

مه بوله مشعله داد تاک نشه
مست یمه، دخپلې خاورې بنګ یمه

دجون لسمه؟ 1994
اسلامیه کالج-پېښور

## غزل

دپرخې څاڅکی یې دګل په لمن
د پېغلې ټیک یې داوربل په لمن

دمینې اور دې لولپه کړم داسې
لکه چې بل دی دکابل په لمن

دکلې چم کې مې لمبې بلېږي
کنه، څوک ژوند کا دمغل په لمن

په ګل مئین یم، ګلبوټې پالمه
ځکه مې خښ وي ازغي تل په لمن

نن درفتار سره شرنګا غبرګه وه
نن د ګنډلي پاولي شل په لمن

مشعل ته مينه هم يو داغ ګنبي دوى
خپل يې داغونه پټ دي سل په لمن

داپريل 8 مه ?1994
منصوره-لاهور

## غزل

دناهيليو نه جوړ راز يم لـه تدبيره وځم
زه د دردمن احساس اواز يم لـه ضميره وځم

دمحبت دښمنان ما پـه سر د دار خيږوي
دتا پـه مينه زه تورن يم لـه تكبيره وځم

دخپلو خلكو تقدير وژاړم كه خپل تقدير مې
چې د ژوندون دخوشاليو لـه بهيره وځم

زما پـه چم كې د زګيروو لـه لاسه ژوند نه كيږي
دخلكو كړيكو نه پـه تنګ شومه لـه ويره وځم

دپښتونخوا دښكلا ياد وړمه لـه ځانه سره
چې مينګورې نه، لـه سواته، يا لـه ديره وځم

كالام-پښتونخو
ا1996

## غزل

يم مهاجر لـه كلي كډه كوم
ځكه اكثر لـه كلي كډه كوم

ستا دجبين لـه رڼا لرې ځمكه
اوكه دلمر لـه كلي كډه كوم

يو چا را وښودلـه لار دغذا
دسيم او زر لـه كلي كډه كوم

لـه ادب پالې سيمې "تهل "ته ځمه

که دهنر لـه کلي کډه کوم

غوا ړمه خوند د سولې هم وویـنم
نور نو د شر لـه کلي کډه کوم

دجون لسمه 1992
تل-پښتونخوا